### ۲-۳- که چیرته تاسی په المان کې د ۱۵ میاشتو څخه ډیر، مګر د ۴ کلونو څخه لږ اوسیږئ

نو تقریباً ټول هغه څه چه په **۲-۲-** کی ذکر شوی دلته هم صدق کوی

**مګر:** له یوی خوا د آلمان د دولت د کار موندنی دفترد ترجیح ورکولو د شرط بررسی نکوی او له بلی خوا تاسي اجازه لری چه د کرایي کار ګر په توګه هم مشغول شی. پدی توګه ستاسی چانس د مشغولیت اود کار د اجازی د تر لاسه کولو په برخه کی زیاتیږی.

### ۲-۴- که چیری تاسی د څلورو کالونو راهیسی په المان کې اوسیږی.

نو تاسي اجازه لری چه کار وکړی، بی لدی چه دآلمان دکار موندنی دفتر کومی څیړنی تر سره کړی. خو مخکی تر دی تاسی مجبور یاست چه د خارجیانو دفتر ته مراجعه وکړی او پر خپلي اقامت پاڼي لاندی ضمیمه

**„Beschäftigung gestattet“**

”د مشغولیت اجازه شته“

اضافه کړی؛ بی لدی څخه د کار **اجازه نلری.**

ددی ضمیمی د موجودیت سره بیا تاسی هر کار یا تعلیم پر مخ بیولای شی.

لیکن تر هغی مودی پوری چه تاسي یوازی د اقامت اجازه لری، نشی کولای چه خپله په یوه مستقل او شخصی کار او بارباندی شروع وکړی؛ تاسی تل یوه کار ورکوونکی ته ضرورت لری چه تاسی په کار وګماری.

### ۳. تاسی تر کومو شرطونو لاندی کولای شی چه د مشغولیت اجازه په یوه تصدی یا شرکت کې د یوه کسب د زده کړی لپاره تر لاسه کړی؟

که چیری تاسي د دریو میاشتو څخه راپدیخو په المان کی اوسیږئ او له هغه لمړی ځایه څخه چه تاسي پکي موقتی نیول شوی وی، وتی یاست نو د خارجیانو دفتر کولی شی چه تاسی ته په یوه شرکت یا تصدی کی د یوه کسب د زده کولو لپاره اجازه درکړی؛ یعنی بدون لدی څخه چه پدی برخه کي د المان د کارموندنی دفتر کومی څیړنی وکړی.

بیانو د **خارجیانو لپاره دولتی دفتر (Ausländerbehörde)** ستاسي دا غوښتنلیک د اصولو سره سم د **آلمان د دولت د کار موندنی دفتر (Bundesagentur für Arbeit)** ته استوی او دوی بیا لاندی ټکی اوشرایط څیړی:

### آ - د ترجیح ورکولو څیړل:

دلته څیړل کیږی چه آیا کوم بل کار لټونکی ته باید ترجیح ورکړی شي او کنه (المانیانو، او هم ټولو هغو خارجیانو ته چه لا د مخه د کار اجازه لری ترجیح ورکول کیږی) یعنی دلته لیدل کیږی چه کوم بل څوک هم داکار غواړی او ددی کار لپاره نظر تاسي ته ډیر مستحق دی اویا ددی کار وړتیا لری او کنه.

**پاملرنه:** د المان په څنو سیمو مثلا په نیدرزاکزن (Niedersachsen) کي دغه **د ترجیح ورکولو ټکی او شرط نه څیړل کیږی.**

که چیری تاسی تحصیل کړی وی او یا د کوم کسب د زده کړی دوره مو په بریالیتوب خلاصه کړی وی او ستاسی اړونده اسناد په المان کښی په رسمیت پیژندل شوی وی، نو پدی حالت کي هم د ترجیح ورکولو د شرط بررسی او څیړنی ته ضرورت نشته.

### ب - د کار د قانون د شرطونو بررسی

دلته څیړل کیږی چه آیا په هغه کارکي چه تاسي ته وړاندی شوی ټول قانونی شرطونه او مقررات ( مثلا د کار وخت) مراعت شوی او کنه او همدا رنګه آیا هغه مزد چه تاسی ته درکول کیږی د ټاکل سوی مزد سره برابر دئ اوکنه.

### ث – د یوه کارګر په کراه ورکولو منع:

دلته څیړل کیږی چه ایا تاسي په کرایي توګه کار ته استول کیږی. کله تاسي ددی اجازه تر اوسه نلری. که د ترجیح ورکولو شرط نه څیړل کیږی نوکرایی کار بیا منع نه دی.

دغه څیړنه باید دآلمان دکار موندنی مرکزی دفتر د دوواونیو په دننه کي بشپړ کړی. که د آلمان د کار موندنی مرکزی دفتر موافقه وکړی او یا ځواب ور نکړی(!)، نود خارجیانو دفتر بیا تاسی ته د همدی کار لپاره اجازه درکوی. باید **پام وکړی** چي دغه اجازه د خارجیانو ددفتر لخوا ستاسی د اقامت پر پاڼی هم ولیکل شی.

او که چیرته ستاسي د کار کولو غوښتنه رد شی او یا تاسی ته د خارجیانو د دفتر له خوا د کار اجازه درنکړی شی، نو د خارجیانو دفتر باید تاسئ ته په **لیکلی** توګه خپل دلایل وړاندی کړی. تاسی کولی شی چي د یوی معینی مودی په دننه کي ددی فیصلی په ضد قانونی اقدام وکړی. ښه به داوی چه ددغسی یو اقدام څخه مخکي دیوی مشورتی مرجع څخه ځان ته کره معلومات تر لاسه کړی.

## I - د هغو پناه غوښتونکو لپاره معلومات چه یا د اقامت اجازه لری او یایوه تصدیق پاڼه لری چه د پناېندګی غوښتونکی دی (د راتلو سند Ankunftsnachweis)

### ۱ – تاسی کله او ولی د کار کولو اجازی ته اړتیا لری؟

- په هر غیر شخصی کار کې د مقرری لپاره،
- د یوه کسب د زده کولو تمرین (Praktikum) لپاره په یوه شرکت یا تصدی کی.

### ۲- څنګه او کله تاسی د کار اجازه تر لاسه کولای شی؟

### ۲-۱- که چیرته ستاسی تر اوسه په المان کی دری میاشتی پوره شوی نوی

نو په همدی مودی کښی کار کول منع دی. دا ستاسی د اقامت پر پاڼی (د اقامت اجازه او یا دراتلو سند) داسی لیکل شوی

**„Erwerbstätigkeit nicht gestattet“**

**”د کاراوبار اجازه نشته“**

### ۲-۲- که چیرته تاسی له دریو میاشتو څخه ډیر، مګر له ۱۵ میاشتو څخه لږ په المان کی اوسیږئ او له هغه لمړی ځایه څخه چه تاسي پکي موقتی نیول شوی وی، وتی یاست

نو تاسي کولی شی چه په دی مودي کښی د کار اجازه تر لاسه کړی. ستاسی د اقامت د اجازی پر پاڼی په دغه وخت کښی لیکل کیږی

**„Beschäftigung mit Genehmigung der Ausländerbehörde gestattet“**

**“ د خارجیانو لپاره د دولتی دفتر په امر د کار اجازه شته“**

یعنی لمړی باید ځنی شرطونه پوره شوی وی.

### څه باید وکړی (یعنی کوم شرطونه باید پوره شی)؟

لمړی باید تاسي یو څوک پیدا کړی چه هغه غواړی تاسی په کار وګماری. وروسته بیا د خارجیانو د دولتی دفتر څخه د **مشغولیت** د **اجازی** لپاره خپله **غوښتنه** وړاندی کړی.

# لمړنی معلومات پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره د کار په بازار کی د داخلیدو په هکله

# د کارکولو اجازه څه وخت راکول کیږئ؟

## II - لمړنی معلومات هغو مهاجرو ته چه ډولډونګ (Duldung) یعنئ تحمل) لری.

**ستاسی لپاره هماغه قواعد اعتبار لری لکه چه په I کې یادونه شوې خو دوه لاندې استثناګاني موجودی دی:**

### ۱ - د کار کولو ممانعت

د خارجیانولپاره دولتی اداره تاسی ته د کار کولو اجازه نه درکوی، که چیری هغوی په دی نظر وی، چه

- تاسی خپل د خارجولو مانع ګرځی، د مثال په توګه که چېرته تاسې خپل هویت او یا خپل د هېواد د تابعیت نوم غلط ورکوی؛ او یا ځان ته د سفرد پاسپورت او یا د پاسپورت پر ځای د یوې سفر پاڼې د لاسه راوړلو لپاره کوښښ نکوی؛ یعنی د مثال په توګه خپل د هېواد سفارت ته مراجعه او هلته د سفر کولو د اسنادو غوښتنه نه کوې.
- تاسی جرمنی ته یواځی ددی لپاره داخل شوی یاست، چه پیسی او مالی بسپنه د جرمنی د دولت څخه تر لاسه کړی.

ستاسی پر تحمل پاڼی باندی داسې لیکل شوی:

**”د کاراوباراجازه نشته“**
**„Erwerbstätigkeit nicht gestattet“**

که چیرته غواړی پوه شی چې ایا دغه تصمیم ستاسې په برخه کې غلط او که صحیح نیول شوی، او تاسی یو کار هم موندلی وی، چه غواړی وپې لری نو باید یوی مشورتی مرجع ته لاړ شی او د امکان په صورت کې به په تاسو د کار کولو ممانعت لری شی.

### ۲ - د کسب زده کړه په یوه شرکت او یا تصدی کې

د تحمل یعنی د ډولډونګ د فیصلی په صورت کښی تاسې د واره په یوه شرکت کې د یو کسب د زده کولو اجازه لری. خو شرط یې دادی چې په تاسې د کار کولو ممانعت لرېدلی نه وی. په بل عبارت سره تاسې آلمان ته د داخلیدو نه وروسته دری میاشتنی د انتظار مودی ته ضرورت نلری.

## III - لمړنی معلومات هغومهاجرو ته چې د اقامت اجازه لری.

که چیری تاسې د اقامت اجازه (Aufenthaltserlaubnis) ولری، ستاسی په ”چېپ کارت“ کې سبت شوی، چه د کومو مقرراتو او مادو پر اساس، ولی او د کومو کارونو اجازه درکېږې شوی.

**۱ - داقامت اجازه د ۲۲مادې، جمله ۲؛ د ۲۳ مادې، ۲ او۴ فقرې؛ د ۲۵ مادې ۱ او ۲ فقرې؛ ۲۵ الف او ۲۵ب د اقامت د قوانینو د مادو پر بنسټ.**

د دغو قوانینو په اساس د اقامت په لرلو سره تاسې حق لری چې کار او یا تعلیم وکړی اویا د کوم کسب زده کړی پر مخ یوسی اویا هم ځان ته مستقل اوشخصی کار او بار جوړکړی. خود مستقل مشغولیت لپاره تاسې اکثره وخت نورو اجازو او تصدیقونو ته اړتیا لری. پدی هکله د یوی مشورتی مرجع څخه معلومات تر لاسه کړی. نو ځکه د اقامت پر اجازې داسی لیکل شوی:

**”د کار او بار اجازه ده“.”Erwerbstätigkeit gestattet“**

**۲ - داقامت اجازه د ۲۲مادې، جمله ۱؛ د ۲۳ مادې، ۱ فقره؛ ۲۳ ماده الف؛ ۲۴ ماده؛ د ۲۵ مادې ۳، ۴، ۴الف، ۴ب، ۵ د اقامت د قوانینو د مادو پر بنسټ.**

ددی قوانینو په اساس د اقامت د اجازی پر بنسټ، د هر شغل اجازه لری او هم د تعلیم او کسب زده کولوباندی پیل کولی شی؛ خو په فوری ډول نشی کولی چه ځان ته یو مستقل او شخصی کار اوبار جوړ کړی. تاسې باید د خارجیانو دفتر ته لاړ شی او د اقامت پر پاڼه مو د لاندی ضمیمې د اضافه کولو غوښتنه وکړی:

**” مشغولیت اجازه لری“ „Beschäftigung gestattet“**

که غواړی چه مستقل کار او بار وکړی نو باید د خارجیانو د پاره دولتی اداری ته خپله ځانګړی درخواستی وړاندې کړی.

ناشر: اتحادیه

Caritasverband für die
Diözese Osnabrück e.V.
Dr. jur. Barbara Weiser
Knappsbrink 58
49080 Osnabrück
Email: bweiser@caritas-os.de

Stand: 31.08.2016 / paschto